مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۰/۰۴/۰۸

غـزل

نسل کشي ده تش پښتو ختموي
وياړ د افغان او پښتنو ختموي

په مکارۍ چې کوم تړون امضاء شو
تل مو په خپلو دسیسو ختموي

چې اغزن تار يې په زړه راښکه راته
اوس مې دښمن په بهانو ختموي

سورۍ ټټر مې ځکه پټ ساتمه
هم مې په ورور هم په پردو ختموي

د ننګ، غیرت آواز يې ګونګ کړ زما
چې مې سرونه له شملو ختموي

ترنګ د رباب کښې مزه پاتې نه شوه
پسرلی دوی خوند د نغمو ختموي

مصطفی پسرلی
08/04/2020

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ